# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

(خبرپاڼه)

دویم کال - ۴۰مه ګڼه | پرله‌پسې ۵۴مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۱۰/۲۴



په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د افغانستان ناخالص کورنی تولید ۱٦ میلیارد ډالرو ته رسېدلی

۲- د ننګرهار سوداګرو د لارو تړلو سربېره په صادراتو کې ګټه کړې

# د افغانستان ناخالص کورنی تولید ۱۶ میلیارد ډالرو ته رسېدلی

امارتي مسوولینو ویلي چې د ۱۴۰۳ کال پر مهال د افغانستان ناخالص کورنی تولید ۱۶ میلیارد ډالرو ته رسېدلی او د سړي سر عاید له ۴۴۶ ډالرو لوړ شوی دی. د اقتصادي شاخصونو دا زیاتوالی په هېواد کې د اقتصادي فعالیتونو د پراختیا، د تولید د زیاتوالي او د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو څرګندونه کوي.

د اقتصاد وزارت مسلکي مرستیال دوکتور عبداللطیف نظري وایي چې د پراختیایي پروګرامونو پلي کېدل، د خصوصي سکتور ملاتړ، د پانګونې پراختیا، د وارداتو د بدیل په توګه د کورني تولید پیاوړتیا او د اقتصادي نظم ټینګښت هغه مهم عوامل دي چې د هېواد د اقتصادي شاخصونو په ښه والي کې یې اساسي رول لوبولی دی.



د اسلامي امارت له واک ته رسېدو وروسته او په هېواد کې د سرتاسري امنیت او ثبات له ټینګښت سره د اقتصادي فعالیتونو له پاره مناسبه فضاء رامنځته شوه. په همدې موده کې په بېلابېلو سکټورونو لکه صنعت، سوداګری، کرنې، کانونو او خدماتو کې فعالیتونه پیل او یا پراخه شول، چې له امله یې د پانګونې کچه لوړه او د تولید بهیر چټک شوی دی.

د اسلامي امارت مسوولینو هڅه کړې چې د کورنی او بهرنی پانګونې د جذب له لارې د بېکارۍ کچه راټیټه او اقتصادي فعالیتونه پراخ کړي. په دې لړ کې په بېلابېلو ولایتونو کې ګڼ صنعتي، تولیدي او سوداګریز فعالیتونه پیل شوي، چې نه یوازې د عاید سرچینې یې زیاتې کړې، بلکې د خلکو د اقتصادي وضعیت په ښه والي کې یې هم مرسته کړې ده.

د ۱۴۰۴ کال له پاره د اقتصادي ودې او د پانګونې د روان وضعیت په پام کې نیولو سره اټکل کېږي چې د افغانستان ناخالص کورنی تولید او د سړي سر عاید به لا زیات شي. د اقتصادي فعالیتونو دوام، د تولید پراختیا او د پانګونې زیاتوالی د هېواد د اقتصادي ودې د چټکتیا او د اقتصادي ځان بسیاینې په لور مهم ګامونه ګڼل کېږي.

# د ننګرهار سوداګرو د لارو تړلو سربېره په صادراتو کې ګټه کړې

له پاکستان سره د سوداګریزو لارو د تړل کېدو له امله د افغانستان اسلامي امارت د خپلو سوداګرو او صادروونکو له پاره د بدیلو سوداګریزو لارو او بازارونو د موندلو هڅې ګړندۍ کړې دي. د ننګرهار د تازه سبزیو سوداګرو د منځنی اسیا هېوادونو ته د خپلو تولیداتو صادرات پیل کړي دي. د تازه سبزیو او مېوو سوداګرو ویلي چې دا بدیل بازارونه د پاکستان په پرتله هم باثباته دي او هم په کې په مناسبه بیه محصولات پلورل کېږي.

د ننګرهار د تازه سبزیو او مېوو د ټولنې مسوولینو په وینا، دا مهال هره ورځ سلګونه ټنه کچالو او نورې تازه سبزیانې د اوزبېکستان او تاجیکستان بازارونو ته صادریږي، چې د مناسب قیمت او پروخت پلور له امله سوداګرو او کروندګرو ته ښه عاید برابروي. د هغوی په وینا، د پخوا په پرتله د کروندګرو ګټه زیاته شوې او د سبزیو بیې هم لوړې شوې دي.




د ننګرهار د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست د مسوولینو په وینا، سږکال د مناسب اقلیم، د بزګرانو د هڅو او د کرنیزو چارو د ښه تنظیم له امله په دغه ولایت کې د کچالو حاصلات زیات شوي دي. د یاد ریاست د معلوماتو له مخې، تمه ده چې سږکال به په ننګرهار کې د کچالو څه باندې ۵۵ زره مټریک ټنه حاصلات ترلاسه شي، چې دا د صادراتو له پاره مناسب ظرفیت برابروي.

امارتي مسوولین هڅه کوي چې د افغانستان د سبزیو د صادراتو له پاره دوامداره او له خنډونو او ستونزو خلاصې سوداګریزې لارې برابرې کړي، څو زیاتې ترانسپورتي اسانتیاوې ولري او سوداګرو ستونزو ته پر وخت رسېدنه هم وشي. په دې سره به نه یوازې د افغان کروندګرو خواری نه ضایع کېږي، بلکې د هېواد اقتصاد به هم له زیانه ساتل شوی او په هېواد کې به د کرنې بهیر په عادي ډول پرمخ روان وي.